


# کفن بیرته راغي









شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامی، حضرت علامہ مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطّار قادری رضوی

دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د كتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لا ندې دُعا اولولئ إِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ کوم څه چه لولئ نو هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه دَ عِلم او دَ حِکمت دروازې پرانيزې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا! (مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)


د رسالې نوم: کفن بيرته راغې

اول ځل: رجب المرجب ١٤٣٦ھ، اپريل 2015ء تعداد:

ناشِر: مکتبةُ المدينه، عالمی مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المدينه کراچۍ.



مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته


### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامې وې يا پاڼړې کمې وې يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وې نو مکتبة المَدينه ته رجوع اوکړئ.

# كفن بيرته راغي

از: شيخِ طرِيقت امیرِ اَہلسنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي

## حضرتِ علّامه، مولانا، ابو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوِي

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

**دَ ترجمي پيشکش:**

مجلس تراجم (دعوتِ اسلامي) د دي رسالي د اُردو نه په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجمه کولو کوشش کړي دي. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمي زياتي اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

**مجلس تراجم دعوتِ اسلامي**


عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# کفن بيرته راغي

شيطان که هرڅو ناراستي درولي خو دارساله د اوّل نه تر آخيره پورې پوره اولولئ اِنْ شَآءَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ د دې ډيرې فائِدې به تاسو پخپله اووينئ.

## د دُروشريف فضيلت

دَ حُضُورِ اکرم نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ رحمت نِشان دې: چا چه په کتاب کښې په ما باندې دُرُود شريف اوليکلو تر څو پورې چه په هغې کښې زما نوم وي فرِښتې به د هغه دَ پاره اِستِغفار (يعني دَ بخښنې دُعا) کوي. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج۱ص۴۹۷حديث۱۸)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د بَصرې يوې نيکې ښځې دَ وَفات په وَخت کښې خپل ځوئ ته وَصِيَّت اوکړو چه: زما کفن د هغه جامو نه جوړ کړه په کومو جامو کښې به چه ما په رَجَب المُرَجَب کښې عِبادت کولو." خو د وفات نه پس ورله ځوئ د بَلې ټوټې [کپړې] نه کفن جوړ کړو او دفن [يعني خخه] ئې کړه. چه کله هغه د اِديرې [يعني مُقبرې] نه بيرته کور ته راغلو نو څه ګوري چه کوم يو کفن ورته هغه اغوستې وو هغه په کور کښې پروت وو! هغه اوېَريدو او د مور د وصِيَّت والا جامو پسې ئې لټون شروع کړو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درود پاك لوستل هير كړل هغه دَ جنّت لاره هيره كړه. (طَبَرَاني)

نو هغه د خپل ځائ نه غائِبې وې! په دې كښې د يو غيبي اواز انګازه اوشوه: ”خپل كفن بيرته واخله (د كومو جامو چه هغې وصِيَّت كړې وو) مونږه هم د هغې نه د هغې كفن جوړ كړو (ځكه چه) **څوك د رَجَب روژې** نيسي مونږه هغه په قبر كښې نه **خفه** كوو.“ (نُزهَةُ المَجالِس ج۱ص۲۰۷) **د اللّٰهُ رَبُّ العِزّت** عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئ باندې رحمت وي او د هغوئې په خاطِر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي. اٰمين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په رَجَب كښې دا دُعا لوستل سُنَّت دي

چه كله به د رَجَب مياشت راتله نو نَبِيِّ اكرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دا دُعا لوستله: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَّشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ يعني اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! ته زمونږه د پاره په رَجَب او شَعبان كښې بَرَكتونه واچوې او مونږه رَمَضان ته اورسوې. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط لِلطّبَرانی ج۳ ص۸۵ حديث۳۹۳۹)

## دَ اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) مياشت

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: رَجَبٌ شَهْرُ اللهِ تَعَالٰى وَشَعْبَانُ شَهْرِىْ وَرَمَضَانُ شَهْرُ اُمَّتِىْ يعني رَجَب د **اللّٰه** تَعَالٰى مياشت او شَعبان زما مياشت او رَمَضان زما دَ اُمَّت مياشت ده. (اَلْفِردَوس بمأثور الْخِطاب ج ۲ ص ۲۷۵ حديث۳۲۷۶)

## د رَجَب مُختلِف نومونه او معني

”**رَجَب**“په اصل كښې د **تَرجِيب** نه **مُشتَق** (يعني وتلې) دې، د دې مَعنٰی ده: **تَعظِيم** كول.“ دې ته **اَلاَصَب** (يعني تيز بَهيدل) هم وائي ځكه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو دپاره بخښنه ده.(جامعُ الصَّغِير)

چه په دې مُبارکه مياشت کښې په توبه کونکو باندې د رحمتونو رابهيدل تيز شي او په عِبادت کونکو دَ قبُولِيَّت د انوارو برکتونه کيږي. دې ته **اَلاَصَمّ** (يعني کنړه) هم وائی ځکه چه په دې کښې د جنګونو اواز بالکل نه اوريدلې کيږي. (مُکاشَفةُ القُلوب ص۳۰۱) دې مياشتې ته "**شَهرِ رَجَم**" هم وائي ځکه چه په دې کښې شيطانان رَجم کولې شي (يعني په کانړو وِيشتلې شي) چه هغوئي مُسلمانانو ته تکلِيف ور نه کړي. (غُنیَۃُ الطَّالِبِیۡن ج۱ص ۳۱۹، ۳۲۰)

## د رَجَب د درې حُروفو [د برکتونو] بـه څه وائې!

سُبحٰنَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ! **خوږو خوږو اسلامي ورونړو**! د رَجَب المُرَجَّب د سپرلو به څه وائې! په "**مُکاشَفَةُ القُلُوب**" کښې دي، بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِين فرمائي: په "**رَجَب**" کښې درې حُروف دي: **ر، ج، ب**، "**ر**" نه مُراد رَحمَتِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ "**ج**" نه مُراد دَ بنده **جُرم** "**ب**" نه مُراد **بِرّ** يعني اِحسان او ښيګړه. لکه **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ چه فرمائي: زما دَ بنده جُرم [يعني ګناهونه] زما دَ رحمت او اِحسان مينځ ته کړئ. (مُکاشَفةُ القُلوب ص۳۰۱)

عصياں سے کبھی ہم نے کَنارا نہ کیا
پَر تُو نے دل آزُردہ ہمارا نہ کیا
ہم نے تو جہنَّم کی بہُت کی تجویز
لیکن تِری رَحمت نے گوارا نہ کیا

کله ډېره دَ ګناه نه مونږ او نه کړه
خو تا طبعه زمونږه بيا هم خفه نه کړه
مونږ خو اوکړو کوشش ډير د جَهَنَّم خو رحمت ستا دا خبره خوښه نه کړه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو **الله** به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ عِبادت دَ تُخم کَرَلو میاشت

**حضرت** سَیِّدُنا عَلّامه صَفُّوري رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ فرمائي: **رَجَب المُرَجَب** د تُخم کَرَلو، شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د اُوبه خوَر (يعني د اوبو وركولو) او رَمَضانُ الْمُبارَك د فَصل پريك كولو مياشت ده، لِهٰذا څوك چه په **رَجَبُ المُرَجَب** كښې د عِبادت تُخم او نه كَري او په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم كښې هغه په اوښكو باندې اوبه [موړ] نه كړي نو هغه به په رَمَضانُ الْمُبارَك كښې د رَحمت فصل څنګه كټ كولې شي؟ نور فرمائي: **رَجَب المُرَجَب** بدن، شَعْبَانُ الْمُعَظَّم زړه او رَمَضانُ الْمُبارَك رُوح پاك كوي. (نُزْهَةُ الْمَجالِس ج۱ص۲۰۹)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په **رَجَب المُرَجَب** كښې د نفلي روژو او د نورو عِبادتونو ذهن جوړلو د پاره د دَعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، دَ سُنَّتو د تربيت د مَدَني قافلو مُسافِر جوړ شئ، او دَ دعوتِ اسلامي د طرف نه په رَمَضانُ المُبارَك كښې كيدونكي اجتماعي اِعتِكاف كښې حصه واخلئ، اِنْ شَآءَ اللہ عَزَّوَجَلَّ ستاسو په ژوند كښې به مَدَني انقلاب راشي. د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلي تاسو ته اوروم. چنانچه د فتح پور كمال (ضلع رحيم يارخان، پنجاب، پاكستان) د يو اسلامي ورور بيان دې چه: دَ مَدَني ماحول نه مخكښې ما مونځ خو په پابندئ سره كولو خو د دې باوجود په مختلفو ګناهونو كښې اَخته ووم. مثلاً سَندرې او سازونه اوريدل، فِلمونه او

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

ډرامې کتل او تاش کول وغیره. زه به چه کالِج ته تلم نو همیشه به مې خپل سائیکل د یو اسلامي ورور د دُکان خوا ته اودرولو. په **رَجَب المُرَجَب** کښې چه زه یوه ورځ د سائیکل اُودرولو د پاره د هغه دُکان ته ورغلم نو هغه اسلامي ورور ما ته د شبِ مِعراج په سلسله کښې کیدونکې د اِجتِماعِ ذِکر و نعت دَعوت راکړو، ما اراده اوکړله او په هغه شپه دَ خپلې علاقې نه چه هغه په لرې فاصله کښې ده، یواځې راغلم او پوره شپه مې په اِجتِماعِ ذِکر و نَعت کښې شرکت اوکړو. ما ته په دې اِجتِماعِ پاك کښې ډېر سُکون اوشو، او د هغې په وجه ما په هفته واره اجتماع کښې دَ پابندئ سره شریك کیدل شروع کړل، په دې دوران کښې د رَمَضانُ الْمُبارَك د برکتونو والا میاشت هم راغله، اِسلامي ورونړو دَ اِنفِرادي کوشش په ذریعه زه د آخِرې عَشَرې د اِعتِکاف د پاره راضي کړم. په اِعتِکاف کښې ما ډېر څه زده کړل، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما ته د ګناهونو نه نفرت پیدا شو، ما په اِعتِکاف کښې ږِیره پریښودله او دَ عمامه شریفې تاج مې هم په سر کړو. دَ دې لیك د وخته پورې د ډویژن مشاورت دَ مَدَني اِنعاماتو ذِمّه دار یم. **اَللّٰه رَبُّ العِزَّت** عَزَّوَجَلَّ دِ په دې مَدَني ماحول کښې اِستِقامَت رانصیب کړي.

## دَ يو جَنَّتي نهر نوم رَجَب دې

حضرت سَیِّدُنا انس بن مالِك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه رسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: په جَنَّت کښې یو نهر دې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

چه هغې ته ”رَجَب“ وئيلې شي هغه د پئيو [شودو] نه زيات سپين او د شهدو نه زيات خوږ دې، چه څوك د رَجَب يوه روژه اونيسي الله عَزَّوَجَلَّ به د هغه نهر نه په هغه باندې څښبي.“ (شُعَبُ الْاِیمان ج ۳ ص ۳۶۷ حديث ۳۸۰۰)

## جَنَّتي محَل

تابِعي بُزُرگ حضرت سَيِّدُنا ابو قِلابه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ”د رَجَب د روژه دارو د پاره په جَنَّت کښې يو محَل دې.“ (ايضاً ج۳ ص۳۶۸ حديث۳۸۰۲)

## پينځه بَرَکتي شپې

حضرت سَيِّدُنا ابو اُمامه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه د نَبِيِّ کريم، رءُو فٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عظِيم دې: ”پينځه شپې داسې دي چه په هغې کښې دُعا نه رَد کيږي (1) د رَجَب وړومبئ شپه (2) د شَعبان پينځلسمه شپه (يعني شَبِ بَراءَت) (3) د جُمعې شپه (4) د عِيدُ الفِطر (يعني واړه اختر) شپه (5) د عِيدُ الاَضحٰی (يعني د غټ اختر) شپه.“ (تاريخ دمشق لابن عساكِر ج ۱۰ ص ۴۰۸)

## پينځه اَهَمې شپې

حضرت سَيِّدُنا خالِد بن مَعدان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: په کال کښې پينځه شپې داسې دي چه څوك د دې د تصديق کولو [يعني مَنلو] سره د ثواب په نِيَّت دا په عِبادت کښې تيرې کړي نو الله تَعَالٰی به هغه جَنَّت ته داخِل کړي (1) د رَجَب وړومبئ شپه چه په دې شپه عبادت اوکړي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

او د دې د ورځې روژه اونيسي (2) د شَعبان پينځلسمه شپه چه په دې شپه عبادت اوكړي او د ورځې روژه اونيسي (4،3) د اخترو شپې (د عِيدُ الفِطر يعني واړه اختر شپه او د عِيدُ الاَضحٰى يعني د نهم او لسم ذُوالحِجَّه مينځنۍ شپه) چه په دې شپو كښې عبادت اوكړي او د ورځې روژه او نه نيسي (په اخترو كښې روژه نيول، ناجائِزه دي) (5) او د عاشورې شپه چه په دې شپه كښې عِبادت اوكړي او د ورځې روژه اونيسي.

(اَلبَدْرُ الْمُنِير لابنِ الْمُلَقِّن ج۵ ص۴۰ ،غُنْيَةُ الطَّالِبِيْن ج۱ ص۳۲۷)

## وړومبۍ روژه د دريو كالو د ګناهونو كَفَّاره

**فرمانِ مُصطفٰى** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ''دَ رَجَب د وړومبۍ ورځې روژه د دريو كالو كَفّاره ده، او د دويمې ورځې روژه د دوو كالو او دَ دريمې ورځې د يو كال كَفّاره ده، بيا د هرې ورځې روژه د يوې مياشتې كَفّاره ده.''

(اَلْجامِعُ الصَّغِير لِلسُّيُوطى ص۳۱۱ حديث ۵۰۵۱،فَضائِلُ شَهرِرَجَب لِلخَلّال ص۶۴)

دلته ''د ګناهونو كَفّاره'' نه مُراد دا دې چه دا روژې د ګُناهِ صغيره د مُعافۍ ذريعه جوړې شي.

## د نوح عَلَيْهِ السَّلَام په كشتۍ كښې د رَجَب د روژې سپرلي

حضرت سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چه د رَجَب يوه روژه اونيوله نو هغه به د پوره كال د روژو په شان وي، چا چه ووه روژې اونيولې په هغه به د دوزخ ووه واړه دروازې بندې كړې شي، چا چه اَته روژې اونيولې دَ هغه

فرمَانِ مُصطَفےٰصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قِيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

دَ پاره به دَ جَنَّت اَته واره دروازې بيرته كړې شي، چا چه لس روژې اونيولې هغه چه دَ الله عَزَّوَجَلَّ نه څه غواړي الله عَزَّوَجَلَّ به ئې هغه ته وركوي او چا چه پينځلَّس روژې اونيولې نو د اَسمان نه يو مُنادي نِدا [يعني اعلان كونكې اِعلان] كوي چه ستا تير شوي ګناهونه اوبخښلې شو پس ته د نوي سر نه عمل شروع كړه ځكه چه ستا بدئ په نيكو كښ بدلې كړې شوې. او څوك چه زيات اوكړي نو الله عَزَّوَجَلَّ به هغه ته زيات وركړي او په رَجَب كښ نُوح (عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) په كشتئ كښ سور شو نو پخپله ئې هم روژه اونيوله او ملګرو ته ئې هم دَ روژې نيولو حكم اوكړو. دَ هغوئې كشتئ دَ لسم مُحَرَّم پورې شپږ مياشتې په سفر وه.

(شُعَبُ الْاِيمان ج۳ص۳۶۸حديث۳۸۰۱)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د يوې روژې فضيلت

حضرت علّامه شيخ عَبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِى نقل كوي چه د سُلطانِ مَدينه، قَرارِ قَلب و سِينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ باقَرِينه دې: دَ رَجَب مياشت په حُرمت لرونكو مياشتو كښ [يوه مياشت] ده او د شپږم اَسمان په دروازه باندې د دې مياشتې ورځې ليكلې شوي دي. كه څوك په رَجَب كښ يوه روژه اونيسي او هغه په پرهيزګارئ سره پوره كړي نو هغه دروازه او هغه (د روژې والا) ورځ به د هغه بنده دَ پاره د الله عَزَّوَجَلَّ نه بخښنه غواړي او عرض به كوي: "يا الله عَزَّوَجَلَّ! دا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډير زيات كنجُوس(شوم) دي. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

بنده اوبخښي." او كه هغه كس دَ پرهيزګارئ نه بغير روژه تيره كړي نو بيا هغه دروازه او ورځ دَ هغه دَ بخښني درخواست نه كوي او هغه كس ته وائي:" اے بنده ستا نفس تا سره تګي اوكړه."

(مَاثَبَتَ بِالسُّنة ص ٢٣٤، فَضائِلُ شَهْرِ رَجَب لِلْخَلّال ص ٥٦)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چه د روژې مقصد صرف اوګې او تګي اوسيدل نه دي، ټول اندامونه د ګناهونو نه بچ كول هم ضروري دي، او كه د روژه نيولو باوجود هم دَ ګناهونو سلسله جاري وي نو بيا د محرومئ د پاسه محرومي ده.

## دَ شپيتَو مياشتو ثواب

حضرت سَيِّدُنا ابو هُرَيره رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي:"خوك چه د رَجَب د ووه ويشتمي ورځې روژه اونيسي، **اللّٰه** تَعَالٰى د هغه د پاره د شپيتَو مياشتو د روژو ثواب ليكي." (فَضائِلُ شَهْرِ رَجَب لِلخَلّال ص ٧٦)

## د سَلو كالو د روژو ثواب

د رَجَب الْمُرَجَّب د ووه وِيشتَمي د عَظَمتونو به څه وائي! هم په دې تاريخ زمونږه ګران ګران، خوږ خوږ آقا مَكِّي مَدَني مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د مِعراج شريف عَظِيمُ الشَّانه مُعجِزه وركړې شوه.

(شَرحُ الزُّرقاني عَلَى المَواهِبِ اللَّدُنِّية ج ٨ ص ١٨)

چنانچه د ووه ويشتم رَجَب شريف د روژې لوئې فضيلت دې څنګه چه د حضرت سَيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دي، د

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

الله عَزَّوَجَلَّ دَ محبوب، دانائے غُيُوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ ذيشان دې: ”په رَجَب كښې يوه شپه او ورځ ده څوك چه په هغه ورځ روژه اونيسي او دَ شپې قيام (يعني عِبادت) اوكړي نو لكه هغه چه دَ سلو كالو روژې اونيولې، دَ سلو كالو شب بيداري [شَو كِيره] ئې اوكړه او دا دَ رَجَب ووه وِيشتم تاريخ دې.“ (شُعَبُ الْاِيْمَان ج٣ ص٣٧٤ حديث ٣٨١١)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په رَجَب كښې د پريشانئ لرې كولو فضيلت

دَ حضرت سَيِّدُنا عَبدُالله اِبنِ زُبير رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې: ”څوك چه دَ رَجَب په مياشت كښې د كوم يو مسلمان پريشاني [مُشكِل] لرې كړي نو الله عَزَّوَجَلَّ به هغه ته په جَنَّت كښې يو داسې مَحَل وركوي چه هغه به د نظر د حدونو پورې غټ وي. تاسو دَ رَجَب اِكرام (او اِحترام) اوكړئ، الله عَزَّوَجَلَّ به په زرو كَرامَاتو ستاسو اِكرام كوي.“

(غُنيةُ الطّالِبين ج١ ص٣٢٤، معجمُ السّفر لِلسّلفى ص٤١٩ رقم ١٤٢١)

## د ووه وِيشتَمې شپې د دولسو نفلونو فضيلت

په رَجَب كښې يوه شپه ده چه په هغې كښې دَ نيك عمل كونكي دَ پاره د سلو كالو د نيكو ثواب دې او هغه د رَجَب ووه وِيشتمه شپه ده. څوك چه په دې كښې دولس ركعته داسې ادا كړي چه په هر ركعت كښې سُوْرَةُ الْفَاتِحَه او كوم يو سورت او په هر دوه ركعتو اَلتَّحِيّات اولولي او په دولس پوره كولو سلام اوګرځوي، د هغې نه پس 100 ځله دا اولولي:

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ 100 ځله اِستِغفار، 100 ځله دُرود شريف اولولي او دَ خپلې دُنيا او آخِرت د پاره چه د څه شي دَ پاره غواړي دُعا دِ اوکړي او سحر دِ روژه اونيسي نو الله عَزَّوَجَلَّ به د هغه تولې دُعاګانې قبولې کړي سِوا د هغه ګناه نه کومه چه ګُناه د پاره وي.

(شُعَبُ الاِيمان ج۳ص۳۷۴حديث ۳۸۱۲)

## حُرمت لرونکې څلور مياشتې

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** دَ الله عَزَّوَجَلَّ په نِزد څلور مياشتې په خصوصِيَّت سره عَظَمت لرونکې دي. چنانچه پاره10 سُورَةُ التَّوبَه آيت 36 کښې ارشاد کيږي:

اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ مِنْهَآ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ۬ فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ وَ قَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً ؕ وَ اعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۶﴾

**مفهوم ترجمه کنزُالإيمان:** بيشکه د مياشتو شمير د الله په نِزد دولس مياشتې دي د الله په کتاب کښې، د کله نه چه هغه زمکه او اسمانونه جوړ کړي دي، په هغې کښې څلور حُرمت والا دي، دا نيغ دِين دې نو په دې مياشتو کښې په خپل ځان ظُلم مه کوئ او دَ مُشرِکانو سره هر وَخت جنګيږئ څنګه چه هغوئ هر وخت ستاسو سره جنګيږي او پوهه شئ چه الله د پرهيزګارانو سره دې.

دَ بيان شوي آيتِ مُبارکه نه لاندې صَدرُ الافاضِل حضرت عَلّامه مَولانا سَيِّد مُحَمَّد نَعِيمُ الدِّين مُراد آبادي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْهَادِي په "خَزَائِنُ العِرفان"

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ځوک چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به دَ قِیامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

کښې فرمائي: (څلور حُرمت لرونکو میاشتو نه مُراد دي) درې پرله پسې ذُوالقَعده، ذُوالحِجَّه، مُحَرَّم او یوه جُدا رَجَب. عربو به دَ جاهِلِیَّت په زمانه کښې هم په دې کښې جنګ کول حرام ګڼړل. په اِسلام کښې دَ دې میاشتو حُرمَت او عَظَمت نور هم زیات شو. (خَزائِنُ العِرفان ص ۳۶۲)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** په دې آیت مُبارکه کښې د قَمَري (یعني د هِجري سِن د دولسو میاشتو) ذِکر دې د کومو حِساب چه د سپوږمۍ نه کیږي، دَ شریعت دَ ډیرو اَحکامو بُنیاد هم په قَمَري میاشتو قایم دې، مَثَلًا دَ رَمَضَانُ المُبارك روژې، زکوٰة، دَ حج احکام وغیره او اسلامي کلیزې خوشحالۍ مثَلًا عِیدِ مِیلادُ النَّبی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ، وړوکې اَختر، غټ اَختر، شبِ مِعراج، شبِ براءَت، یوولسمه شریف، د بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِین عُرسونه وغیره هم د آسماني میاشتو په حِساب سره کیږي. افسوس! نن صبا څنګه چه مسلمان د بې شمیره سُنّتونو نه لرې وتې دې دَغسې د اسلامي تاریخونو نه هم ورځ په ورځ نا آشنا کیږي، غالِبًا د یو لاکه مسلمانانو په اِجتِماع کښې که دا اعلان اوکړې شي چه "اوښائي نن د کومې هِجري سِن د کومې میاشتې کوم تاریخ دې؟ نو شائِد په مُشکله سره به سل مسلمانان داسې وي چه هغه به صحیح جواب ورکړې شي! یاد ساتئ! چه په ډیرو مُعامَلاتو کښې مَثَلًا د زکوٰة په فرض کیدو وغیره کښې د قَمَري میاشتو لِحاظ ساتل فرض دي.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

## د رَجَب دَ اِحترام د بَرَکت حِکایت

د حضرت سَیِّدُنا عِیسٰی رُوحُ الله عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام دَ وَخت واقعه ده چه یو سړې دَ ډیرې مودې نه په یوه ښځه عاشِق وو. یو ځل هغه په خپله محبوبه باندې قابو اوموندله، د خلقو ګڼړه ئې چه اولیدله نو هغه اندازه اولګوله چه هغوئې میاشت ګوري. هغه د هغه ښځې نه تپوس اوکړو چه خلق د کومې میاشتې سپوږمئ ګوري؟ جواب ئې ورکړو: "د رَجَب." هغه حالانکه چه کافِر وو خو چه د رَجَب شریف نوم ئې واوریدلو نو دَ ادب په وجه فوراً جُدا شو او دَ "ګنده کار" نه منع شو. حضرت سَیِّدُنا عِیسٰی رُوحُ الله عَلٰی نَبِیِّنَا وَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ته حکم اوشو: زمونږه دَ فلانکي بنده سره مُلاقات اوکړه. هغوئې عَلٰی نَبِیِّنَاوَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام تشریف یوړلو او دَ الله عَزَّوَجَلَّ حکم او دَ خپل تشریف راوړلو وجه ئې ورته بیان کړه. دا ئې چه ځنګه واوریدل نو دَ هغه زړه دَ اسلام په رڼړا روښانه شو او هغه اِسلام قبول کړو. (اَنِیسُ الوَاعِظِین ص۱۷۷)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو دَ رَجَب سپړلي اولیدل! د رَجَب المُرَجَّب په تعظیم کولو چه یو کافِر ته دَ اِسلام دولت نصیب کیدې شي نو یو مسلمان چه د رَجَب المُرَجَّب اِحترام اوکړي، معلومه نه ده هغه ته به څه څه انعامونه نصیب کیږي! په قُرآنِ پاك کښې په

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

حُرمَت (يعني عِزَّت) والؤ مياشتو کښې په ځان باندې د ظُلم کولو نه مَنع کړې راغلې ده. چنانچه په "نُورُ العِرفان" کښې:[د دې آيت]

فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ (مفهوم ترجمه کنزُالإيمان: نو په دې مياشتو کښې په خپل ځان ظُلم مه کوئ)

نه لاندې دي: يعني په خُصُوصِيَّت سره په دې څلورو مياشتو کښې ګناه مه کوئ." (نُورُالعِرفان ص۳۰٦)

## د دوو کالو دَ عِبادت ثواب

دَ حضرت سَيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې، سرکارِ نامدار، دَدوارو جهانو مالِك و مُختار بِاِذنِ پروردګار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دَ مُشکو نه زيات خوږ فرمان دې: "چا چه د حُرمت والا مياشت کښې درې ورځې د زيارت، جُمعه او خيالي روژې اونيولې، د هغه د پاره به د دوو کالو دَ عبادت ثواب ليکلې شي." (اَلْمُعجَمُ الاَوسَط لِلطَّبَرانی ج۱ ص۴۸۵ حديث۱۷۸۹)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** دَلته د "حُرمَت والؤ" مياشتو نه هم دا څلور مياشتې يعني ذُوالقَعده،ذُوالحِجّه،مُحَرَّمُ الحَرام او رَجَبُ المُرَجَب مُراد دي، په دې څلورو واړو مياشتو کښې چه په کومه مياشت کښې هم دَ بيان کړې شوو درې ورځو روژې اونيسئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دوو کالو دَ عِبادت ثواب به اومومئ.

تیرے کرم سے اے کریم! مجھے کون سی شے ملی نہیں
جھولی ہی میری تنگ ہے، تیرے یہاں کمی نہیں

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

اے کريمه په کرم ستاء راته هر څيز رانصيب دي ستا د دره
ځولئ زما وړه ده ستا په در کښې کمې نشته

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نُوراني غَر

يو ځل حضرت سَيِّدُنا عِيسٰی رُوحُ الله عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د يو پرقيدونکي نُوراني غَر په خوا تيريدلو. هغوئي عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په بارګاهِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ کښې عرض اوکړو: يا الله عَزَّوَجَلَّ! دې غر ته قُوَّتِ ګويائی [يعنې د وئيلو طاقت] عطا کړې. هغه غر اووئيل: يا رُوحَ الله! (عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) تاسو څه غواړئ؟ اوئې فرمائيل: خپل حال بيان کړه. غر اووئيل: "په ما کښې دَنَنه يو سړې اوسيږي." سَيِّدُنا عِيسٰی رُوحُ الله عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په بارګاهِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ کښې عرض اوکړو: "يا الله عَزَّوَجَلَّ! هغه ما ته راښکاره کړې." يو دَم غَر اوچاودو او دَ هغې نه دَ سپوږمئ په شان پرقيدونکې مخ يو بُزُرګ را او وَتلو، هغوئي عرض اوکړو: " زه دَ حضرت سَيِّدُنا مُوسٰی کَلِيمُ الله (عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) اُمَّتي يم ما دَ الله عَزَّوَجَلَّ نه دا دُعا کړې وه چه هغه ما دَ خپل خوږ محبوب، نَبِيِّ آخِرُ الزَّمان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ تشريف راوړو پورې ژوندې اوساتي چه زه دَ هغوئي دِيدار هم اوکړم او دَ هغوئی دَ اُمَّتي جوړيدو شرف هم حاصل کړم. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه په دې غَر کښې د شپږو سوو کالو نه د الله عَزَّوَجَلَّ په عِبادت کښې مشغول يم." حضرت سَيِّدُنا عِيسٰی رُوحُ الله

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰى)

عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په بارگاهِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ كښې عرض اوكړو: يا الله عَزَّوَجَلَّ! آيا د زمكې په سَر باندې ستاسو په بارگاه كښې د ده نه هم زيات خوك مُكرَّم (يعني عِزَّت والا) شته دې؟ ارشاد اوشو: اے عِيسٰى (عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) په اُمَّتِ مُحَمَّدِي كښې چه خوك د رَجَب دَ مياشتې يوه روژه هم اونيسي هغه زما په نِزد د ده نه هم زيات مُكَرَّم دې. (نُزهَةُ المَجالس ج۲ص۲۰۸)

**د الله رَبُّ الْعِزّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئ باندې رحمت وي او د هغوئي په خاطِر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.** اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رَجَب كُونډې

صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي مُحَمَّد امجدعلي اَعظمي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْقَوِى فرمائي: دَ رَجَب په مياشت كښې ځيني ځائيونو كښې دَ حضرت (سَيِّدُنا) اِمام جَعفَر صادِق رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د اِيصالِ ثواب د پاره په كونډو[يعني د خاورو په كاسو]كښې پورئ [يو قِسم دَ ميدې نرئ غوړې ډوډئ] وركولې شي دا هم جائِز دې خو په دې كښې ځيني خلقو هم په هغه ځائ كښې د خوړلو پابندي ايښي ده، دا پابندي صحيح نه ده. د دې كُونډې مُتَعَلِّق يو كتاب هم دې چه د هغې نوم "داستانِ عَجِيب" دې، ځيني خلق په دې موقعه باندې هغه لوَلي په هغې كښې چه څه ليكلي شوي دي د هغې هيڅ ثبوت نشته ځكه هغه لوستل نه دي پكار، بلكه په دې موقع فاتِحه لوستل او هغه اِيصالِ ثواب كول [يعني وربخښل]

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانِي)

پکار دي. (بَہارِ شَرِیعَت ج۳ص۶۴۳) هم دغه رنګ ”دَس بیبیوں کی کہانی“، ”لکڑ ہارے کی کہانی“ او ”جناب سَیِّدہ کی کہانی“ ټولې هسې بې حقیقته جوړې شوې قیصې دي، دا مه لولئ، د دې په ځائ يو ځل **سُوْرهٔيٰس** لولئ د لس ځله قُرآن کریم ختمولو ثواب به مو کیږي دا هم یاد ساتئ! چه صرف په کونډو کښې کِهیر خوړل او ورکول ضروري نه دي، په نورو لوښو کښې ئې هم خوړلې او ورکولې شئ. اِیصالِ ثواب (یعنې ثواب وربخښل) د قُرآنِ کریم او احادِیثِ مُبارکه نه ثابت دي، اِیصالِ ثواب دَ دُعا په ذریعه هم کیدې شي او په ډوډئ وغیره باندې دَ فاتِحه لوستلو په ذریعه هم کیدې شي. دَ کونډو خیرات هم دَ ایصالِ ثواب یو صورت دې، دې ته ناجائِز وئیل په شریعت باندې دروغ (یعنې تُهمت لګول) دي. ناجائِزه ویونکي دِ دَ پاره 7 سُوْرَۃُ الْمَآئِدَہ په آیت نمبر87 کښې د بیان شوي حُکمِ اِلٰهي نه عِبرت واخلي چنانچه اِرشاد کیږي:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَیِّبٰتِ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَ لَا تَعْتَدُوْاؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ(۸۷)

**مفهوم ترجمه كنزُ الإيمان:** اے ایمان والؤ! حرام مه وائې هغه پاك خیزونو ته کوم چه اللّٰه ستاسو د پاره حلال کړل او دَ حد نه مه تیریږئ. بې شکه د حد نه تیریدونکي اللّٰه نه خوښوي.

## د رَجَب کُونډې په کوم تاریخ کول پکار دي؟

د رَجَب په پوره میاشت کښې بلکه په ټول کال کښې چه کله غواړئ د اِیصالِ ثواب د پاره د کونډو خیرات کولې شئ، البَتّه مُناسِب دا دي

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعي په شپه او د جُمعي په ورځ په ما باندي د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كونكي او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

چه په پينځلسم رَجَب المُرَجَب د ”رَجَب كونډې“ اوكړې شي ځكه چه هم دا د هغوئي دَ عُرس ورځ ده څنګه چه په فَتاوىٰ فَقِيهِ مِلَّت جلد2 صفحه 265 كښې دي:”دَ حَضرت (سَيِّدُنا) اِمام جَعفر صادِق رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نياز [يعني خيرات] په پينځلسم رَجَب كوئ ځكه چه دَ حضرت وِصال په پينځلسم رَجَب شوې دې.“ او دَ **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** په چاپ شوي كتاب شَرحِ ”شَجَره قادريه“صفحه 59 كښې دي: هغوئى رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ته د 68 كالو په عُمر كښې[1] په پينځلسم رَجَب المُرَجَب[2] سِن 148ھ كښې يو ظالِم زهر وركړل چه هغه دَ هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ دَ شهادت سَبَب جوړ شو. د هغوئي مزارِ اقدس په **جَنَّتُ البَقِيع** (مَدِينَةُ الْمُنَوَّره) كښې دَ والِدِ **مُحترم** حضرت سَيِّدُنا اِمام **مُحَمَّد** باقِر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په څنګ كښې دي. **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئى باندې رحمت وي او د هغوئي په خاطِر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## صحابه به د ووه ورځو پورې اِيصالِ ثواب كولو

حضرت عَلّامه **جلالُ الدِّين سُيُوطِي** شافِعِي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْقَوِي نقل فرمائي چه صحابه كِرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به د ووه ورځو پورې د وَفات شوو خلقو دَ طرفه ډوډئ وركوله. (اَلْحاوِى لِلْفَتاوِى لِلسُّيُوطى ج٢ ص٢٢٣)

---

[1] سيرأعلام النبلا للذهبى ج٦ ص٤٤٧

[2] شواهد النّبوه ص٢٤٥

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي **الله** د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غَر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

معلومه شوه چه په خلقو د ډوډۍ خوړلو په ذريعه اِيصالِ ثواب کول دَ صحابه سُنّت دې او دَ رَجَب په کونډې کښې هم غِذا يعنې د خوراك څيز وي او هغه د اِيصالِ ثواب د پاره په خلقو [او بچپله] خوړلې شي.

## صحابي د مور له طرفه باغ صَدَقه کړو

په **بُخاري** شرِيف کښې دي: دَ حضرت سَيِّدُنا سَعد بِن عُبادَه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ والِده وَفات شوه نو هغوئي په بارګاهِ رِسالَت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضِر شو او عرض ئې اوکړو: **يا رَسُولَ الله** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما مور زما په غير موجودګۍ کښې وفات شوې ده، که زه دَ هغوئي له طرفه څه صَدَقه کړم نو آيا هغوئي ته څه فائِده رَسيدې شي؟ اِرشاد ئې اوفرمائيلو: آو، عرض ئې اوکړو: نو زه تاسو ګواه جوړوم او وايم چه زما باغ دَ هغوئي له طرفه صَدَقه دې. (بُخاری ج۲ص۲۴۱حدیث۲۷۶۲) معلومه شوه چه د ډوډۍ ورکولو نه علاوه په باغ يعنې د مال خرچ کولو په ذريعه هم اِيصالِ ثواب کول جائِز دي او د کُونډې شريف نياز [خيرات کول] هم په مالي اِيصالِ ثواب کښې شامِل دي. زما آقا **اعلٰحضرت** اِمام احمد رضا خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن فرمائي: په مسلمانانو مړو پسې د اِيصالِ ثواب ډوډۍ (يعني خيرات کول) بې شکه جائِز او مُستَحسَن (يعني ډير ښه) عمل دي او په هغې باندې دَ فَاتِحَه لوستلو په ذريعه اِيصالِ ثواب کول دويم مُستَحسَن (يعني ښه عمل) دې او دوه څيزونه را يو ځائ کول زِيادَتِ خير (يعني په ثواب کښې زيات والې) دې. (فَتاوٰی رَضَوِیَّه مُخَرَّجه ج۹ص۵۹۵) دَ هر کس

www.dawateislami.net

دَ پاره دا غوره ده چه كوم يو نيك كار اوكړي نو دَ هغې ثواب دِ اَوَّلِين و آخِرِين مړو او ژوندو (يعنې دَ سَيِّدُنا آدم صَفِيُّ الله عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام نه واخله تر قِيامته پورې راتلونكو) ټولو مُؤمِنِين او مُؤمِناتو ته تُحفه كړي (يعنې ور او دِ ئې بخښي)، ټولو ته به ثواب رسي او د هغه (يعنې چا چه اِيصالِ ثواب اوكړو) به دَ هغه ټولو هُمره ثواب كيږي. (ايضاً ص ٢١٧) اِيصالِ ثواب دِ په ښه نِيَّت اوكړې شي په دې كښې دِ خلقو ته ښودل مقصد نه وي او نه دِ دَ دې مزدوري او قِيمت اغستې شوې وي، ګنې بيا نه ثواب شو او نه اِيصالِ ثواب. يعنې چه هډو ثواب او نه شو نو ور رسي به څنګه!

(ماخوذ از بهارِ شريعت ج ١ ص ١٢٠١ و ج ٣ ص ٦٤٣)

## ورځ مُقرَّر كول

**وَسوَسه:** دريمه، څلويښتمه، يوولسمه، دولسمه او د رَجَب د كونډې وغيره په نوم باندې د اِيصالِ ثواب [خيرات كولو] ورځې وَلې مخصوص كړې شوې دي؟

**جَوابِ وَسوَسه:** د اِيصالِ ثواب د پاره په شَرِيعت كښې هيڅ موده او وخت مُتَعَيَّن نه دې، البته په ورځ وغيره مُقَرَّركولو كښې شرعاً باك (حَرج) هم نشته، وَخت مُقَرَّر كول په دوه شان دي (1) **شرعي**: چه شرِيعت دَ يو كار كولو د پاره وَخت مُقرر كړې وي. مَثَلًا قُرباني، حج وغيره (2) **عُرفي**: چه دَ شريعت دَ طرف نه څه وَخت مُقَرَّر نه وي او خلق دَ خپل ځان او

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

دَ نورو دَ سهولت او يادګيرنې يا دَ څه خاص مَصلَحت دَ پاره يو وَخت خاص کړي. لکه څنګه چه نن صبا په جُماتونو کښې دَ جَمعې د مونځونو د پاره وختونه مخصوص کول وغيره، حالانکه پخوا به د جَمعو د پاره وخت نه مقرريدو چه کله به مونځ ګُزاره راجمع شو نو جَمعه به اودرولې شوه. دَ ځينې کارونو دَ پاره خو پخپله سرکارِ مَدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وَخت مُقَرَّر کړې وو او دَ صحابه کِرامو نه هم داسې ثابت دي مَثَلًا (1) حُضُورِ پُرنُور، سَيِّدِ عالم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هر کال دَ شُهَدائے اُحُد عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان قبرونو ته دَ تشريف وړلو وخت مقرر فرمائيلې وو[3] (2) د خيالي په ورځ د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مسجدِ قُبا ته تشريف راوړل[4] (3) او دَ سَيِّدُنا صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ سره د دِينې مشورو دَ پاره دَ سحر او دَ ماښام د وختونو تَعَيُّن[5] (4) حضرت عَبدُالله بِن مَسعود رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د وعظ او مُذاکرې دَ پاره دَ پنجشنبې (يعني دَ زيارت) ورځ مقرر کړې وه[6] (5) او عُلَماء د سبق شروع کولو د پاره دَ چارشنبې[شروع] ورځ کښنبودله[7].

(ماخوذ از فتاوٰی رَضَوِیّہ مُخَرَّجہ ج۹ص۵۸۵،۵۸۶)

---

[3] مصنّف عبدُ الرَّزّاق ج۳ص۳۸۱حديث۶۷۴۵

[4] مسلم ص۷۲۴حديث۱۳۹۹

[5] بُخاری ج۱ص۱۸۰حديث۴۷۶

[6] بُخاری ج۱ص۴۲حديث۷۰

[7] تعليم المتعلّم ص۷۲

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نيزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

# مکتوبِ عطّار

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم دَ سګِ مدينه محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي عُفِيَ عَنۡهُ له طرفه، **د ټولو اسلامي ورونړو، اسلامي خويندو، د مدارِسُ المدينه او جامِعاتُ المدينه استاذانو، طَلَبه، مُعَلِّماتو او د طالِباتو** په خِدمتونو کښې د کعبه مُشَرَّفه نه ګير چاپيره تاؤ شوې او ګُنبَدِ خَضرا ښکُلُونکې د رَجَبُ المُرَجَّب، شَعبَانُ المُعَظَّم او **رَمَضَانُ المُبارَك** د روژه دارو د بَرکتونو نه ډك سلام،

اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهٗ    اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ عَلٰی کُلِّ حَالٍ

ہو نہ ہو آج کچھ مرا ذکر حُضور میں ہوا
ورنہ مری طرف خوشی دیکھ کے مسکرائی کیوں (حدائقِ بخشش شریف ۹۷)

نن خه ذِکر زما شوې په بارګاه کښې دَ حُضُور
خوشحالي نن مُسکېږي څکه زما په لَور ده

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ يو ځل بيا دَ خوشحالو ورځې راتلونکې دي، دَ رَجَب المُرَجَّب مياشت ډير زر راتلونکې ده. په دې مُبارکه مياشت کښې دَ عِبادت تُخم کرلې شي، په **شَعبانُ المُعَظَّم** کښې دَ پښيمانئ په اوښکو د هغې اوبه خوَر کولې [يعنې د أوښکو اوبه ورکولې] شي او دَ **رَمَضانُ المُبارك** په مياشت کښې دَ رحمت فصل ريبلې [کټ کولې] شي.

www.dawateislami.net

## د دريو مياشتو روژې

د رَجَب المُرَجَّب قدردانو! كه په تَعلِيم و تَعَلُّم (يعني وئيلو او ښودلو) او حلال كسب [مزدورئ وغيره] كښې څه رُكاوټ نه راځي، مور او پلار هم بې وجهې نه منع كوي او د هيڅ چا حق تَلَفي [حق وهل] هُم نه كيږي نو زر زر او ډير زر مسلسل د درې مياشتو يا د **رَمَضانُ المُبارك** د فرضو روژو سره د چا نه چه خومره كيدې شي د هغه هُمره نفلي روژو دَ پاره ملا اوتړئ، په پيشمني او روژه ماتي كښې د كم خوراك په ذريعه **دَ خيټې قُفلِ مدينه** هم اولګوئ. كاش! چه په هر كور كښې او زما په ټولو مَدارِسُ المدينه او ټولو جامِعاتُ المدينه كښې **د روژو سپرلي** راشي، بس د وړومبي رَجَب نه روژې نيول شروع كړئ.

## د رَجَب د وړومبو دريو روژو فضيلت

د **رَجَب** شريف د وړومبو درې ورځو د روژو د فضائِلو به څه وائي! د حضرت سَيِّدُنا **عَبدُالله اِبنِ عَبَّاس** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دې دَ سركارِ مَدينه قَرارِ قَلب و سِينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ رحمت نِشان دې: "د رَجَب د وړومبئ ورځې روژه د دريو كالو كَفّاره ده او د دويمې ورځې روژه د دوو كالو او د دريمې ورځې د يو كال كَفّاره ده، بيا د هرې ورځې روژه دَ يوې مياشتې كَفّاره ده."

(اَلجامِعُ الصَّغيرلِلسُّيُوطی ص ۳۱۱ حدِيث ۵۰۵۱، فَضائِلُ شَهرِ رَجَب لِلخَلّال ص ٦۴)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

میں گنہگار گناہوں کے سوا کیا لاتا
نیکیاں ہوتی ہیں سرکار نِکوکار کے پاس

ما گنهګار څه وې راوړي د ګناه نه سِوا
نیکئ خو وي زما سرکاره د نیکانو سره

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دَ نفلي روژو هم څه ښکلي فضائِل دي! په دې باره کښې دوه احادِیثِ مُبارکه اوګورئ:

## (1) فرِښتې دَ بخښنې دُعا کوي

**حضرت** سَیِّدَتُنا اُمِّ عَمّاره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡھُمَا فرمائي: حُضُورِ پاك، صاحِبِ لولاك، سَیّاحِ افلاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما کره تشریف راوړو نو ما دَ هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمَتِ بابَرَکت کښې ډوډئ پیش کړله نو اِرشاد ئې اوفرمائیلو: "ته هم اوخوره." ما عرض اوکړو: زه روژه یم. نو رَحمَتِ عالم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: تر څو چه د روژه نیونکي په مخکښې ډوډئ خوړلې شي، فرښتې دَ هغه (روژه نیونکي) د پاره دَ بخښنې دُعا کوي.

(سُنَنِ تِرمِذی ج۲ ص۲۰۵ حدیث ۷۸۵)

## (2) د روژه نیونکي هډوکي کله تسبِیح کوي؟

حَضرت سَیِّدُنا بِلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ دَ نَبِیِّ اکرم، نُورِ مُجَسَّم، شاهِ آدم و بني آدم، رَسُولِ مُحتَشَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمتِ مُعَظَّم کښې حاضر شو، هغه وَخت حُضُورِ پُرنُور، شافِعِ یَومُ النُّشُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ناشته کوله،

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ کښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعني لاس مِلاوُوم). (اِبنِ بشکوال)

اوئې فرمائيل: اے بِلال! ناشته اوکړه."عرض ئې اوکړو: "يا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه روژه يم." نو رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "مونږه خپله روزي خورو او د بِلال رِزق په جَنَّت کښې زياتيږي." اے بِلال! آيا ته خبر ئې چه تر څو د روژه نيونکي په مخکښې څه خوړلې شي تر هغې پورې دَ هغه هډوکي تسبِيح کوي [او] هغه ته فرښتې دُعا کوي." (شُعَبُ الاِيمان ج ۳ ص ۲۹۷ حدِيث ۳۵۸۶)

مُفَسِّرِشَہِير حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْحَنَّان فرمائي: د دې نه معلومه شوه چه که د ډوډۍ خوړلو په وَخت کښې څوك راشي نو هغه ته هم د ډوډۍ سَت کول سُنّت دي، خو د زړه په اِراده دِ ورته سَت اوکړي د دروغو سَت دِ نه کوي، او راغلې کس دِ هم دروغ نه وائي چه زما زړه ته نه کيږي، چه لوږه او دروغ يو ځائ نه شي، بلکه که خوړل نه غواړي يا اووينې چه ډوډۍ کمه ده نو او دِ وائي بَارَكَ الله (يعني الله عَزَّوَجَلَّ دِ بَرَکت درکړي) دا هم معلومه شوه چه د سَرورِ کائِنات، شاهِ مَوجُودات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه خپل عبادتونه پټول نه دي پکار بلکه ښکاره دِ ئې کړي چه حُضورِ پُرنُور، شافِعِ يَومُ النُّشُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هغې باندې ګواه جوړ شي. دا ښکاره کول رِياکاري نه ده. (دَ حضرت بِلال د روژه نيولو په اوريدو ئې چه څه اوفرمائيل دَ هغې شرح دا ده) يعني مونږه خپله د نن روزي خو هم دلته خورو او حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به ئې د دې په بدله کښې په جَنَّت کښې خوري هغه بدله به دَ دې نه غوره هم وي او زياته

www.dawateislami.net

به هم وي. حديث بالكل په خپله ښكاره معنٰى دې، واقعي هغه وخت دَ روژه نيونكي هر هډوكي او جوړ بلكه رَګ رَګ تسبِيح (يعني د الله عَزَّوَجَلَّ پاكي) بيانوي، چه په هغې روژه نيونكې نه پوهيږي خو سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ئې اوري. (مِراۃ ج۳،ص۲۰۲،بتغيّرقليل)

كه لوستلې مو وي نو بيا هم دواړه رِسالې (۱) "د كفن بيرته راتلل مَع د رَجَب سپرلي" او (2) "د آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مياشت" اولولئ. او هر كال په شَعبَانُ المُعَظَّم كښې د فَيضانِ سُنّت د جِلد اوّل باب "فَيضانِ رَمَضان" هم ضرور لولئ. كه كيدې شي نو دَ عِيدِ مِعراجُ النَّبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نِسبت 127 يا 27 رِسالې يا دَ خپل وَس مُناسِب "فَيضانِ رَمَضان" هم تقسيم كړئ او په دَلو دَلو ثوابونه اوګټئ، عام طور د ټولو اسلامي ورونړو او خاص طور د جامِعاتُ المدينه او مدارِسُ المدينه دَ ټولو قاري صاحِبانو، اُستاذانو، ناظِمانو او دَ طالب عِلمانو په خِدمتونو كښې زما ډير زيات مَدَني عرض دې چه برائے كرم! (زما په ژوند هم او زما دَ مرګ نه پس هم) په زكوٰة، فِطره، دَ قُربانئ خرمني او په نورو مَدَني عطياتو جمع كولو كښې پوره پوره حصّه اخلئ. (اسلامي خويندې دِ نورو اِسلامي خويندو او مَحارِمو ته د مَدَني عطياتو ترغِيب وركړي) قسم په خدائے! زه چه دَ هغه استاذانو او طالبِ عِلمانو په باره كښې واورم نو ډير خوشحاليږم كومو چه دَ خپل كلي يا ښار ته دَ تللو دَ خواهِش قرباني وركړې وي او رَمَضانُ المُبارك په خپلو جامِعاتو كښې تيروي او دَ خپل مجلِس دَ هدايت

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

په مُطابِق د مَدَني عطياتو په بَستو باندې ذمه واري سنبالوي، کوم اُستاذان او شاګردان چه بغير د څه مجبورۍ نه صرف د سستۍ يا د غفلت په وجه دَ عطياتو نه جمع کولو مُظاهره کوي دَ هغوئي په وجه زما زړه ژاړي.

**خصوصي مَدَني ګل:** کوم اسلامي ورور يا اسلامي خور چه مَدَني عطيات راټول غواړي د هغوئي دَ پاره دَ چندې ضروري احکام معلومول فرض دي، تاکيد دې چه که مخکښ مو لوستلې وي نو هم د **دعوتِ اسلامي** دَ اشاعتي ادارې **مَكتَبَةُالْمَدِينه** چاپ شوې د 100 صفحو کتاب، "**چندے کے بارے میں سوال جواب**" بيا اولولئ. **يا الله** عَزَّوَجَلَّ په **رَمَضانُ المُبارَك** کښې د مَدَني عطياتو او په غټ اَختر کښې څرمنې راټولو د پاره کوشش کونکي کوم **عاشِقانِ رَسُول** چه زما زړه خوشحالوي، ته د هغوئي نه د هميشه هميشه د پاره خوشحاله شې او د هغوئي په خاطِر ما د ګنهګارو د سردار نه هم د هميشه د پاره راضي شې، **يا الله** عَزَّوَجَلَّ! کوم اسلامي ورور او اسلامي خور چه (د عُذر نه کيدو په صورت کښې) هر کال د دريو مياشتو روژې نيولو او هر کال جُمادَ الاُخرٰی کښې رساله "**د کفن راتلل**" او د رَجَب المُرَجَب په مياشت کښې "**د آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **مياشت**" او په **شَعبَانُ المُعَظَّم** کښې "**فَيضانِ رَمَضان**" (پوره) دَ لوستلو يا اوريدلو سَعادت حاصل کړي ما ته او هغه ته دَ دُنيا او آخِرت ښيګړې رانصيب کړې او مونږه بې حِسابه اوبخښې او په جَنَّتُ الفِردوس کښې مو دَ خپل خوږ مَدَني حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ګاونډ کښې يو ځائ لرې.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

## جشنِ مِعراجُ النَّبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

د **دعوتِ اسلامي** د طرف نه د رَجَب المُرَجَب په اووِيشتمه شپه، د **جَشنِ مِعراجُ النَّبی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سلسله كښې كيدونكي اجتِماعِ ذِكر ونعت كښې ټول اسلامي وروڼه د شروع نه د آخِرې پورې شركت كوئ او **د اووِيشتم رَجَب روژه نيسئ او د شپيتو مياشتو د روژو د ثواب حقدار جوړيږئ.**

رجب کی بہاروں کا صدقہ بنادے
ہمیں عاشقِ مصطفٰی یا الٰہی

په خاطِر د رَجَب د سپرلو كړې
مونږه جوړ عاشِقِ مُصطفٰی يا اِلٰهي

## دَ سترګو دَ حِفاظت دَ پاره مَدَني ګلونه

دَ پينځه وخته مانځه نه پس ښې لاس په تَندي كيږدئ او "**يَانُورُ**" 11 ځله په يوه ساه كښې اولولئ او د دواړو لاسو ټولې ګوتې پرې دم كړئ او په سترګو ئې راښكاږئ. اِنْ شَآءَاللّٰهعَزَّوَجَلَّ د ړونديدو، د نظر دَ كمزورې كيدو او دَ سترګو د ټولو مرضونو نه به په حفاظت كښې اوسئ. **دَ اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په رَحمت ورسره ړوند هم بينا كيدې شي.

**مَدَني عرض:** دا مكتوب [يعني خط] د **جُمَادَى الْاُخرٰى** په آخِرې زيارت په هفته واره د سُنّتو نه ډكه اجتِماع/**جَامِعَاتُ المدينه/مَدَارِسُ المَدِينه** كښې په لوستلو سره اوروَئ. (اسلامي خويندې دِ پكښې ضرورتاً بدلون اوكړي)

**وَالسَّلام مَعَ الاِكرام.**

**دا رِساله چه اولولئ نو د ثواب په نِيَّت ئې بل چا ته وركړئ**

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او مونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو نه ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نيّتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره په **مَدَني قافِله** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبي تاريخ ئې د خپل ځائ ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ

د ځان د اصلاح د پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د اصلاح د پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښې سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ






فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net